DAILY
اراده
دافغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپانه
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش
سال ششم شماره ۱۳۷
شماره مسلسل ۱۰۰۴
یکشنبه ۷ جوزا ۱۳۸۵ هـ.ش
۲۹ ربیع الثانی ۱۴۲۷ هـ ق
28 May, 2006

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

در ولسی جرګه:

رئیس و یک عضو پیشنهادی شورای ستره محکمه رد شدند

فضل الهادی شینواری و حسین رستایی که بحیث رئیس وعضو شورای محکمه عالی به ولسی جرګه معرفی شده بودند بااکثریت آرای نمایندگان رد شدند.

آقای شینواری که در پنج سال گذشته رئیس محکمه عالی بود باردیگر از سوی رئیس جمهور کرزی به حیث رئیس محکمه عالی به پارلمان معرفی شد اما نماینده گان ولسی جرګه دیروز با ۱۱۷ رای مخالف در برابر ۷۷ رای موافق صلاحیت آقای شینواری را برای ادامه ریاست محکمه عالی رد نمودند.

دیروز نمایندگان ولسی جرګه در مورد فضل الهادی شینواری و محمد حسین رستایی که به صفت رئیس و عضو شورای عالی محکمه به ولسی جرګه معرفی شده بودند به رای گیری پرداختند.

در روز های پیش در مورد این دو تن نمایندگان به دلیل عدم حضور یابی در مجلس نداشتن تجربه کاری در قضا و تحصیلات عالی به مخالفت های شدید

یکدیگر رو برو شدند. باز هم نشست دیروزی نمایندگان با بی نظمی ها و مخالفت ها همراه بود ص۴

سرمقاله

ولې خپلو سیاسی تحلیل ګرانو نه درنارې له لاسه ورکوو؟

که چیرې پرونیو حالاتو او شرایطو ته وګورو نو تر پرونیو دیکتاتوریزو حرکاتو او بندیزونو په نسبی توګه مطبوعاتو او رسنیو ته ازادی ورکړل شوی ده خو سره له دې دغه ورکړل شوی ازادی هم کله ناکله له بندیزونو او نیوکو سره مخامخ کیږي.

موږ باید ددغې نسبي راکړل شوی ازادی څخه دهیواد او ټولنې دهر اړخیزې خوا د جوړولو په برخه کې په نیمګړتیاوو دټولنیزو فسادونو د له منځه وړلو لپاره په یوه داسې معقول حد کې انتقادونه او نیوکې وړاندې کړو چې دچا حیثیت او شخصیت له سپکاوی سره مخامخ نشي کله کله لیدل کیږي چې موږ ته دراکړل شوی ا زادی څخه په استفاده له تصویری رسنیو څخه داسې خبرو اکټونو او ملنډو ته اجازه ورکول کیږي چې زموږ په وروسته پاتې ټولنه کې دګوتو په شمیر سیاسی تحلیل ګرانو او څیړونکو د ریشخندولو سبب کیږي او یا داسې کاریکاتورونه هم کله ناکله تر سترګو کیږي چې دشخصیتونو دسپکاوی سبب کیدای شي.

دا نه وایو چې ددې څه دپاسه څلور کلونو په اوږدو کې پوره رسیدلی یو زموږ ټول مسوولین ، سیاسی څیړونکی او نظر ورکوونکی به خامخا په خپلو ویناوو کې دځینو په نظر کمزوری نقطې و لرې خو کولای شو چې هغه په یوه سالم انتقاد او سالم نظر سره وڅیړو او دحل لارې پې په ګوته کړو موږ دیوې جنګ څپلی او وروسته پاتې ټولنې په دننه کې ژوند کوو جنګونو له موږ څخه هر څه اخیستی دی دژوند سوکالی، امن امنیت، احساس او سیاسی تحلیل ګران او څیړونکی چې زیات مو په بهرنیو هیوادونو کې ژوند کوی. او راپاتې سیاسی څیړونکی او نظر ورکوونکی باید او باید دسترګو د کسی په څیر له ګرانبت څخه ونه غورځوو او دهغو سالمو انتقادونو ته چې دهیواد په دننه کې د بدبختیو داصلاح لپاره یې یوازینی هدف دی په درناوی سره وګورو نه دا چې دملنډو حرکات او خبرې د لیدونکو د خندا لپاره درسنیو له لارې سرته ورسوو چې دهغوی دسپکاوی سبب شي او داسې سپکاوی په حقیقت کې زموږ خپل سپکاوی دی هیله من یو چې دچارو مسوولین هم دداسې حرکاتو په مخنیوی کې جدی اوسی او دخپل هیواد سیاسی څیړونکو او کارپوهانو ته درناوی ولرې. که موږ یو بل ته په درناوی وګورو کولای شو چې د جوړولو وروستی هدف ته ورسیږو.

په غزنی کې پنځه طالبان نیول شوی

په غزنی ولایت کې چارواکی وایی د وسله والو نښتو له امله پنځه کسان وژل شوی دی دچارواکو په وینا ددغه ولایت په دوو جلا ولسوالیو کې دري طالبان وژل شوی او کس یې ژوندی نیولی دی. نښتې دغزنی ولایت په ګیریو او قره باغ ولسوالیو کې شوی او چارواکی وایی په دغو نښتو کې ددولتی خواکونو دوه کسان وژل شوی دی. خو ملات تکور چې خان دطالبانو ویاند یادوی طالبانو ته اوښتی مرګ ژوبله نه مني. دیو بل خبر له مخې دغزنی ولایت په قره باغ ولسوالی کې دملی اردو یو سرتیری د ناپیژندل شوی کسانو له لورې وژل شوی دی. دملی دفاع وزارت وایی د غه سرتیری له غزنی څخه دکابل په لورې روان و چې دلارې په اوږدو کې دنامعلومو وسله والو کسانو له خوا وژل شوی دی

۹ تن طالب بازداشت گردید

۹ تن از افراد مخالف دولت دیروز در ولسوالی زرمت ولایت پکتیا از سوی نیروهای امنیتی آن ولایت باز داشت شدند. فرمانده پولیس پکتیا میگوید بربنیاد مدارکی که از نزد بازداشت شدگان بدست آمد این افراد در حمله دو روز پیش بر یک پوسته امنیتی در ولسوالی زرمت ولایت پکتیا مورد حمله افراد مسلح ناشناس قرار گرفته بود. ص۴

پنج طالب کشته شد

در یک حمله هوایی نیروهای ائیتلاف بر یک اردو گاه آموزش نظامی طالبان در ولایت هلمند پنج طالب کشته شدند.

نیروهای ائتلاف با اعلام این خبر میگویند که درین حمله یکی از فرماندهان گروه طالبان نیز کشته شده است. ص۴

په خوست کې دامنیت دتینګیدو په خاطر ګډه غونډه

پرون دخوست په ولایت هیواد کې دائتلافی ځواکونو لومړی قوماندان جنرال ایکن بیری په ګډون یوه غونډه جوړه کړه.

په دغه غونډه کې دجنوب ختیځو ولایتونو پر امنیتی مسایلو هر اړخیزې خبرې اترې وشوې. دغونډې ګډون کوونکو په دې تینګار کاوه چې باید دزون په کچه مشترکې قرار ګاوې جوړې شي څو د ولایانو دامنیه قوماندانانو ترمنځ دسیمې دامنیت په تینګښت کې هم غړې اوګډ تفاهم رامنځته شي دغه راز په غونډه کې دسیمې داقتصادی ستونزو په هکله هم بحث وشو.

لتو کوب خبرنگار

یک خبر نگار و دوتن از تصویر برداران تلویزیون آیینه صبح دیروز در نزدیکی دروازه صدارت از سوی مامورین ریاست دهم امنیت ملی مورد ضرب وشتم قرار گرفتند.

گفته میشود که درین رویداد دست خبرنگار این تلویزیون شکسته است ودو تن دیگر نیز شدیداً مجروح شده اند.

در نشست خبری که دیروز به همین مناسبت توسط همایون خیری رییس نماینده گی تلویزیون آیینه در کابل برگذار شد وی از منسوبین ریاست دهم امنیت خواست تا این موضوع را بطور جدی پی گیری نماید ص۴

په ننګرهار کې د محصلینو لاریون

دننګرهارپوهنتون په سل ګونو محصلینو دهغو دري کسانو دخوشې کیدو په اړه لاریون وکړ چې څه موده وړاندې ددولت له لورې نیول شوی وو.

دپوهنتون چارواکی وایی دنیول شوو محصلینو دخوشې کیدو لتپه یې پیل کړې ده. ۴مخ

په بلخ کې کډوال ستونزې لري

دبلخ ولایت دچاربولک په ولسوالی کې ۵۰۰۰ راستانه شوی کډوال سرتکوی چې هیڅ مرستې ورسره نه کیږي.

ځینوکډوالو په سیمه کې دازادی رادیو خبریال ته ویلی چې له دغو پنځو زرو څخه یوازې هغه زرو کډوالو سره مرسته کیږي ۴مخ

پیوست به گذشته

بی اعتمادی، میان مردم وحکومت خط فاصل میکشد

میرعبدالصمد حدید

بیعدالتی چه در خانواده چه در اجتماع وچه در دستگاه های دولتی بدترین وزیان بار ترین روش محسوب می شود که اثرات ویران گری را بهمراه دارد اداره های موقت انتقالی وانتخابی از همان ابتدا ازین روش نادرست پیروی کردند، علاوه براینکه در تعین افراد به پست ها ومقام های دولتی چه درسطح وزارت خانه ها وارگان های تابعه وچه درحاکمیت های محلی قطعاً عدالت برمبنای دیانت، وفاداری به ملت ووطن، لیاقت، تحصیل وتخصص، تجربه در رشته مربوط متناسب باپست ومقام رعایت نشد واکثر تعیینات بر اساس مصلحت های سیاسی، قومی، مذهبی، گروهی وتحت نظر وهدایت حاکمان خارجی صورت گرفته است در امور استخدام افغانها خارجی شده بحیث مشاور ویا رییس در ادارات دولتی با معاش دالری ماهانه بسیار زیاد نیز نهایت بیعدالتی وبیداد گری نسبت به مردم روا داشته شده است یک مامور ویا یک معلم که سالیان زیادی را در خدمت وطن وملت بوده ودر بدترین وسخت ترین شرایط کشور را ترک نکرده وهمه مشکلات را متحمل شده است، ۲ تا ۵ هزار افغانی معاش میگیرد ولی برای افغانی خارجی شده که سالها از وطن دور بوده شاید در لسان انگلیسی وکامپیوتر آشنائی ومهارت داشته باشد وشاید هم عده در رشته های مختلف دیگر ۵ تا ۲۰ هزار دالر وبقول بعضی ها برای برخی تا ۵۰ هزار دالر در ماه معاش داده می شود ویا به خارجیان به عنوان مشاور روزانه بیشتر از ۲ هزار دالر ۵۰ برابر معاش ماهانه یک معلم معاش داده میشود ونتیجه کارشان هم ملموس نیست. اکثر این افغانهای خارجی شده به افغانستان علاقه ندارند فقط علاقه وافرشان برای اخذ معاشات دالری می باشد وبا کمک به اینجو های خارجی برای بازگشتاندن کمک های کشور های خارجی به غرب ویا مساعد نمودن زمینه خرید شرکت ها وتاسیسات صنعتی وخدماتی برای خارجیان در قالب توطئه ها ودسایس جداگانه که برای نابودی ثروت ودارائی باقیمانده افغانستان طراحی شده وتوسط مشتی وطنفروش وجاسوس اجرا می شود از آقای پروفیسور اقتصاد پرسان شود سرازیر نمودن ارزخارجی ببازار که بنام کمک، خارجی در اختیار افغانستان گذاشته میشود تاچه زمانی می تواند به ثبات ارزش پول افغانی کمک کند، افغانستان تا ابد نمی تواند متکی به کمک خارجی باشد وبا قطع شدن این کمک ها سرنوشت پول افغانستان چه خواهد شد. بدون شک این روش حفظ ثبات پول وهمین طور اتکا بودجه به مالیات، محصول وعوارض گمرکی نمی تواند به رشد وشگوفائی اقتصاد وبهبود شرایط زندگی مردم وبرچیدن بساط فقر وبیکاری کمک کند تثبیت ارزش پول رایج، کاهش وبابرچیدن بساط فقر وبیکاری تامین امنیت شغلی ایجاد رفاه وآسایش در جامعه ونهایتاً رشد وشگوفائی اقتصاد، پشرفت، ترقی وتعالی کشور با اتکا کمک های خارجی شیوه های سودجویانه شخصی وروش های نامعقول مصرف در ادارات دولتی که فعلاً رایج است افزایش محصول، عوارض گمرکی ومالیات که قربانی اصلی مصرف کننده های فقیر مي باشند، انکایه محصول وعوارض گمرکی ناشی از واردات که کشور را همچنان وابسته ببازار خارجی نگهمیدارد میسر نمی باشد، اگر میلیارد ها دالر کمک خارجی را که اینجو های خارجی حیف ومیل، غارت وچپاول کرده اند ودستگاه های دولتی هم دست کمی از آنها ندارند در پهلوی تقویت سکتور های صحت وطبابت در راه تقویت سکتور زراعت وبازسازی بند وانهار، بازسازی واعمار مجدد فابریکات ومراکز صنعتی، اعمار وبازسازی تاسیسات تولید برق، بهره برداری فنی از معادن استفاده موثر منابع گازی برای سوخت منازل فابریکات وایجاد تسهیلات در موارد ضروری دیگر مصرف می شد، طبعاً با افزایش تولیدات داخلی وایجاد شغل برای بیکاران قسمتی از مشکلات بیکاری و وابستگی به امتعه خارجی که نیاز به ارزخارجی دارد مرفوع ویقیناً در حفظ ثبات ارزش پول افغانی اثرات موثر وملموسی بجا می گذاشت وادامه این روند می توانست افغانستان را از حالت بلاتکلیفی وابستگی بکمک های خارجی، محصول وعوارض گمرکی برهاند ودر مسیر ثبات اقتصادی، ثبات سیاسی وبالاخره ثبات امنیتی هدایت کند.

ادامه دارد

طالبان غواړي دمجاهدينو په لومړنۍ لاره لاړ شي

دنبالې

کله چې په هیواد کې روس پلوه واکمنې په ۱۳۵۷ کال کې رامنځته شوه دټولنې ذهنیت ته په نه پاملرنه سره یې سر په سرفرمانونو وایستل او دخپل قدرت د ټینګښت په خاطر یې یوازې خپل ګوند ته دفعالیت اجازه ورکړه، ګاونډیو هیوادونو او لویدیځوالو هم په افغانستان کې دروس پلوه واکمنې په اشاره دروسانو دراتګ او تودو اوبوته دهغوی درسیدلو له ویرې دنومورې واکمنۍ پرخلاف له مجاهدینوسره دهر ډول همکاري په ورکولو لاس پورې کړ. مجاهدین په خپلو منځونکې دوخت په اوږدو کې په بیلابیلوتنظیمونو باندې وویشل شول. مجاهدین لومړې په خپلو وسلو او لرلو وروسته دبهرنیو په تکیه ورو ورو وسله وال کیدل بهرنیان هم په افغاني لباسونو کې له پاسپورتونو پرته خاوری ته داخلیدل چا به رهنمایی کوله او چاخپله ژورنالیستی دنده سرته رسوله.

مجاهدین دکامیابي تروخته پورې په اولس کې ازاد ګرزیدل ددې په خاطر چې خپلې لیکې پیاوړې کړې دوخت د دولت پرضد یې تبلیغات کول او دهغې واکمنۍ پلویان یې په کفر کې نیول، د مجاهدینو افراد هم پلونه ورانول روغتونونه یې سیزل ښوونځي یې سیزل او دولتي کارکوونکي له کورونو ایستل هغه یې وژل ان چې په لاړو کې یې دسپرلیو له موټرونو څخه دولتي ملکي ماموزین، عسکر او افسران کښته او له منځه یې وړل او په زور به په کلیو کې ګرزیدل اوله خلکو به یې په زور اورضا دوډۍ وخوړه که چیرې به یې په مخامخ جګړه کې عسکر او افسران اسیر ونیول دهغوی برخلیک به هم مرګ و همدا اوس په زور زرونو خلک ورک شوی دي چې پلرونه یې دقبرونو دلیدو په ارمان دي.

هسې نه چې دجګړې یو لوری دا کار کړی بلکې دولتي واکمنۍ هم له ورته وژنو څخه لاس اخیستی نه دي خو اوس چې ټول افغانان او یا که ووایو دبهرنیانو په زور سره یو شوی دي او دهیواد جوړولو په لاره روان دي او طالبان له واکمنۍ څخه ولویدل طالبان د دولت پر خلاف په هماغه لاره روان دي عیناً هماغه لاره یې خپله کړیده ښوونځي سوځوي، بهرنیان وژني، ښوونکي عسکر او افسران ووژني زوره په کلیو کې ګرزي له خلکو ډوډۍ خوري او د دولت پرضد تبلیغات کوي او دخلکو بچیان په زرو او رضا له ځان سره ملګري کوي له کمین څخه راووتل جبهه یې جګړې یې پیل کړې.

په هغه پخوا وخت کې هم خلک له دولت څخه ناراضه وواو اوس هم خلک له دولت څخه ناراضه دي. طالبان دخلکو له کورونو څخه دسنګرونو په توګه استفاده کوي د دولت اوایتلافي ځواکونو دبمباري له املې ملکي کسان وژل کیږي او په هغې پخوا وخت کې به هم مجاهدینو له کورونو استفاده کوله کمینونه به یې نیول اوکله چې بمباري او جګړې به تمامې شوی اوس چې طالبان په هماغه لیدلې لار روان دي او له خلکو دکورونو څخه دسنګرو په توګه استفاده کوي له امکان څخه لیرې نه ده چې درامنځته کیدونکو جګړو په کیدلو سره به ملکي خلک وژل کیږي، کمینونو به نیول کیږي او داسې وخت هم امکان لري راشي اوراغلی دي چې دولتي کارکوونکي له موټرونو څخه ښکته او په پوره بې رحمي یې ووژني لکه چې همدا پرون په غزني داردویو سرتیرې دنامعلومو وسله والو ډلو له خوا له موټر څخه ښکته او وژل شوی او تر دې به هم حالت خراب اوبدشي.

مونږ دهغوی کسان عملاً نیسو په خپلو جرمونو اعتراف کوی، او قانونی بندی کیږي بشري حقوقو ته کتل کیږي خو هغوی خپل قانون سملاسه یعنې صحرایی محکمه پرې چلوی او سرونه یې پریکوی.

د کندهار په پنجوانی ولسوالی کې چې طالبان دخلکو په کورونو کې سنګر نیولی و د دولت او ایتلافي ځواکونو دځمکنۍ او هوایی بریدونو له امله له ۶۰ څخه زیات کسان ووژل او تر ۱۶ زیات ټپیان شول، دا خو دټپي سردې پټې بیرته سورور دي. داسې پیښې نوري هم رامنځته کیدای شي که په تیرو پخوانیو جګړو کې خلک په ملي او مذهبي احساس له مجاهدینو سره یو ځای کیدل او ځای یې ورکولو حرکات او تخریب وکړي دوی ورته ګوري هغوی د دوی دبچیانو ښوونځیې سوځوي دوی ورته ګوري سرباز او افسران وژني دوی ورته ګوري بهرنۍ کارکوونکي چې ابادي کوي هغه تبنتوی او هغه وژني اصلي خبره داده چې اولسونه ورسره لاس لري بې تفاوته دي او که چیرې همداسې بې تفاوته اوسیږي دپخواتر پیښو دلاړیاتو وژنو درامنځته کیدو امکانات موجود کیدای شي څوک په جګړو کې حلوا نه ویشي جنګ کې به خامخا وژل رامنځته کیږي او ورانې به ورسره وي خلک باید پخپله قضاوت وکړي چې په کوم لوری کې یوځای کیدل یا پلوی توب دوطن او خلکو په ګټه تمامیږي مونږ دامنو چې په دولت کې به نیمګړتیاوی ر.. انتقادونه به وی خو دا هم باید زمونږ خلک له یاده ونه باسي چې دولت قانونی دی نن سبا ملی شوا لرو زمونږ قوانین داسلام له اصولوسره برابر او علماوو یې په تصویب کې ونډه اخیستې ده او هیله من یو چې ټولنې نیمګړتیاوی به حلیږي او دولت دقانونیت خواته حرکت کوی خو پدې شرط چې خلک په غیږ کې ونیسي او له طالبانو څخه یې راځانته کړي او خلکو ته هم لازمه ده چې لږ دنیا ته وګوري او په دنیا کې دخپل هیواد کمزوري او وروسته پاتې والې ته وګوري او وروسته دخپل هیواد دجوړولو په خاطر دپلوی لوری وتاکی که چیرې طالبان په پخوانی لاره حرکت کوی په کومه چې مجاهدینو دکامیابی لپاره حرکت کړي وو هغه دوخت بیل شرایط وو هلته دمجاهدینو دوینا له مخې دوخت غوښتنه وه او نوی حرکت و په نوی حرکت کې ستونزې او تیروتنې موجود وی فکر کوو چې اوس دمجاهدینو اکثره غړي په پخوانیو وژنو او ورانیو باندې څکه دصحت ګوته نه ږدی چې اوس یې دجوړولو لپاره ملاتړلی او نسبي بریاوی یې احساس کیږي نو راشي زمونږ خلکو او اولسونو!

دخپل هیواد او ځان دساتلو لپاره دحق پلوی راخپل کړي او دورانوونکو مخه ونیسي.

متصدی: ناصر بشر

رانلونکی د ځوانانو ده

انکشاف بشری وداستان آشپزخانه سوپ

یک مطالعه ملل متحده در سال گذشته نشان داد که تنها درجاده هاي کابل ۶۰ هزارکودک کار مي کنند. این یک تعداد زیاد است و خیلي هم تکان دهنده مي باشد، حقیقت این است که کودکان، حد اقل درحال حاضر، کدام راه دیگري ندارند. این کودکان عمدتاً با خانواده هاي مهاجرین عودت کننده و کسانی که در اثر سالهای طولانی منازعه بیجا شده اند تعلق می گیرند.

کودکان نمی توانند که تحصیل کنند زیرا که مسوولیت عایداتی خانه را که حیات خانواده شان مربوط به آن است به دوش دارند. از آنجایی که در امد انفرادی حتی از بزرگسالان خیلی اندک است، کودکان نیز به کار کشانده می شوند. و در آمد مجموعی خانواده به مشکل شرایط بقای حیات خانواده را مهیا می سازد. اکثریت کودکان یتیم اند، یعنی که درامد شان یگانه منبع عایداتی خانواده می باشد که اکثراً ناچیز است.

طور مثال یک دختر ۸ ساله ۳۵ لیتر آب را هر روزه به بهای ۷ افغانی انتقال می دهد چنانکه می توان تصور کرد، اکثریت کودکان به کار هاي خطرناک وبا دستمزد اندک می پردازندو حتی به جنایت روی می آورند تا به یک منبع عایداتی برسند.

اگر چه همه مسایل فوق غیر قابل تصور به نظر می آید اما این یک واقعیت تراژید است این بدبختی است که افغانستان پس از جنگ دچار آن شده است و چنانکه سایر کشور هاي جهان سوم که از سبب جنگ ومنازعات داخلی از هم پاشیده اند به آن مواجه اند وقتی می بینیم که ۴۵ صد نفوس کشور زیر سن ۱۵ سال قرار دارند دور نمایی انکشاف دراز مدت خیلی ضعیف به نظر می رسد، مگر آنکه از کودکان مراقبت درست به عمل آید این مستلزم د رک، تعهد و توجه فراوان می باشد.

یکی از موسساتی که درین زمینه خدمات چشمگیری انجام داه است آشیانه نام دارد. آشیانه یک موسسه غیر دولتی است که طی ده سال گذشته، خدمات، حمایت وپروگرام هاي را برای کودکانی که در روی جاده کار می کند وخانواده هایشان تهیه میدارد. آشیانه دارای شش مرکز در سراسر کابل می باشد که به خدمت ۳۰۰۰ کودک قرار دارد وهم برنامه ساحوی را برای ۱۰۰۰ کودکی که شامل بیجا شدگان داخلی هستند به پیش می برد خدمات به هدف ایجاد فرصت ها برای انکشاف دادن مهارت هاي ادامه حیات، آموزش اساسی، سواد ودانستن شمارش، انکشاف مهارت ها، آموزش حرفوی، تعلیمات صحی، دسترسی به مراقبت هاي صحی اولیه و آگاهی در مورد محیط زیست می باشد. بعضی از پروگرام هاي که راه اندازی شده عبارتند از آموزش، هنر، ورزش، خیاطی، خطاطی، موسیقی وتیاتر (یکی از اطفال در فلم اسامه نقش ایفا نموده است.

آشیانه فعالیت هایش را در سال ۱۹۹۵ در شهرنو کابل آغاز نموده است. در سال ۱۹۹۸ چهار مرکز در سراسر کابل ایجاد و در سال ۲۰۰۲ یک مرکز براي آموزش تشدیدی براي دختران بزرگسال اساس مختلف دور هم جمع می شوند و میان شان دوستی و تفاهم ایجاد می گردد که یقیناً منتج به نزدیکی بیشتر قومیت ها در نسل هاي بعدی شده می تواند.

طوري که هویداست اینگونه فعالیت هاي بشر دوستانه فقط زمانی موفق بوده می تواند که تمویل کافی به شکل متداوم داشته باشد. اگر چه منابع مروج تمویل از موسسات بین المللی وامداد منبع اصلی تمویل را می سازد، اما بایست که این هزینه با کمک سایر منابع تکمیل گردد. درین زمینه پیشنهاد روشن براي کمک قابل قدر است. آشیانه را می توان با روشن، روشنایی بخشید. همکاری میان روشن و آشیانه را می توان به شکل شاعرانه آن توصیف نمود که اشعه نور به آشیانه که در آن دهن هاي کوچک در انتظار غذا هستند گرمی و روشنی می بخشد.

و این دقیقاً کاریست که روشن انجام میدهد. روشن، منحیث بخشی از مسوولیت شرکتی خویش تصمیم گرفته است تا در اولین پروژه اش با آشیانه یک آشپزخانه سوپ را براي اطفال به شکل خیریه حمایت کند. مصرف تغذیه هزاران کودک روی جاده در یک سال ۲۵۰۰۰ دالر (۱۲۵۰۰۰۰ افغانی) می شود که توسط آشیانه حمایت شده و از جانب روش ایجاد می گردد و به این گونه آشیانه نیرومند می گردد تا از منابع خودش براي توسعه و بهبود برنامه هایش استفاده کند.

روشن به این اقدام سایر فواید دراز مدت جامعه شناختی نیز از پروگرام هاي آشیانه منشا می گیرد. طور مثال کودکان، با قومیت هاي توانند این قابل توجه است که روشن یگانه موسسه تجارتی خصوصی است که آشیانه را کمک می کند. زیرا که سایر موسسات کمک کننده همه موسسات بین المللی و امدادی می باشند. روشن قویاً به این باور است که کودکان افغانستان، آینده کشور می باشند. اکثریت شان خورد سن تر از آنند که سالهاي جنگ را دیده باشند. لیکن امروز آنها قربانیان سالیان نکبت بار پس از جنگ وبی ثباتی می باشند. روشن با سرمایه گذاری در قسمت صحت و بقاي حیات این کودکان، می خواهد تا اطمینان حاصل نماید که این کودکان فرصت بیرون شدن از لجنزاری را که در آن گیر مانده اند به دست آورند.

شرکت هاي خصوصی امروزه بایست نقش فراینده را درانکشاف اجتماعی، اقتصادی جامعه که در آن فعالیت دارند ایفا کنند. ضرور است که آنها تلاش هاي دولت را به هر طریقه ممکنه حمایت کنند آنها نمی توانند از مسایلی که جامعه با آن روبروست خود را دور بگیرند زیرا که همین اجتماع است که به نوبه خویش آینده شانرا حمایت می کند. در حالی که بعضی از شرکت ها مقاصد تجارتی خویشرا با اهداف بزرگی که از آن حمایت می کنند ارتباط می دهند، روشن یک مثال درخشان از یک شرکت داخلی با احساس مسوولیت می باشد که مسوولیت اجتماعی شرکتی اش را که بر مبناي انساندوستی و توجه به ایجاد یک تغییر در زندگی به حاشیه مانده ترین گروه مردم می باشد، ادا می نماید.

حمایت از آشپز خانه سوپ دست یازیده تا اطمینان حاصل گردد که کودکان حد اقل یک وقت طعام صحی را در روز داشته می

په بهر کې د محصلینو غوښتنو ته مثبت ځواب ورکول کیږي

دفرانسوي ځوانانو د ځواوونیونونا آرامیواو دهغوی د پر پراخ تولنیز اعتصابونه چې په توله فرانسه کې د دومیاشتو راهیسې د نوي «لومړني کار قانون» پر سر د هغه هېواد د عادي ژوند مزي یې د کاره ایستلی وو د فرانسې د جمهور رئیس ژاک شیراک لخوا د محصلینو دغوښتنو په منلو سره په بریالیتوب سره پای ته ورسېد. دغه قانون اوس رسماً د نورو تدابیرو په نیولوسره لغوه کړل شو او په دې دول په فرانسه کې د دوو روستیو کلو په ترڅ کې ځوانانو، محصلینو، شاګردانو، بښوونکو، د فرانسې لویو کارګري اتحادیو او د هوائي کرښو شرکتونو، د بسونو، اورګاډو او میترو کارکونکو د پېرسترہ راتولېدنه او سراسري اعتصاب د هغه څه په لاسته راوړلو سره دخپل لوی برې په توګه ولمانځله. د دغه نوي لومړني کار قانون پر سر باندې چې ان د پارلمان نخوالا هم تصویب شوی وو په تیروورستیو اوونیو کې په فرانسه کې لویه شخړه اویوه پراخه تولنیزه خوابدي د دې هیواد د صدراعظم دومینیک دوویلپن او دهغه د دولت پر ضد را پارولې وه. دغه پاربدنه یو ځل بیا فرانسه په یوه بل ستر تولنیز بحران کې لاهو او د زیاتو ګډوډیو سره یې مخامخ کړه. دغه ظالمانه او بشري ضد قانون، د فرانسې د کار و مالکانو ته داحق او اجازه ورکوله چې تر ۲۶ کالو لاندې ځوانان چې د خپل کار د بوختیا په لومړني دوه کلنۍ آزمایښتي دوره کې هغوی د هر راز دلیل نه پرته اود هیڅ راز بیمې او حقوقو په منلو سره د کار نه ګوښه کړي او پر ځای یې نور تازه دمه ځوانان پخپله خوښه په کار وګماري. دغه ظالمانه کاري شرایط په پر شدت سره د فرانسې د کارګري اتحادیو، د محصلینو او زده کوونکو د تولنو قهر را وپاراوه او په مظاهرو او پرله پسې اعتصابو یې لاس پورې کړ او د دولت د تولنو هڅو سره سره یې د هرې ورځې په تېرېدو سره زور اخیست. د فرانسې کارګري اتحادیو لاد پخوا دا ویره ښودلې وه چې د دې هیواد ښې اړخې دولت د جمهور رئیس شیراک په ملاتړ په دې هڅه کې دی چې د هېواد اقتصادي بدنه دي د سیالۍ وبهیر ته را تېل وهي او ورسته دي بیا په تدریج سره په داسې بدلونونو لاس پورې کړي چې د هغوی کاري امنیت د ګواښ سره مخامخ کړي. د فرانسې دولت چې د کار فرمایانو لخوا پر کار باندې د ځوانانو نه ګمارل د ځوانانو د بېوزګارۍ، د تولنیزو مشکلاتو د زیاتوالي او د تیر کال د تاوتریخوالي اصلي عامل بلل شوي دي.

په فرانسه کې دنوموړي ارتجاعي او ظالمانه کار پر قانون باندې دکارګرانو، کارمندانو، محصلینو او شاګردانو دغه شاني سراسري اعتصاب او سوله ایزه مظاهرې او ناخوښۍ په واقعیت کې دهغه عظیم اقتصادي او اجتماعي بحران یوه څرګنده بېلګه ده چې فرانسه او ټوله اروپا یې هېواد ونه یې په خپل چاپېر کې را ښکېل کړې دي او د هرې ورځې په تېرېدو سره خپل تأثیرات بر بنډ وي. د فرانسې د ویښو خلکو دغه عظیم مارش او د هغوی تاریخي بریا وښودله چې د دې هیواد په کارګري او محصلي جنبش کې او د دې جنبش د یووالي او یوې سالمې سازماندهي په مدیریت کې څومره عظیم پوتنسیل پروت دی چې پانګه وال او حاکم دولتونه یې په خپل ټول مالي او تخنیکي امکاناتو د هغه پر اغېزمنتوب باندې ستر ګي نشي پټولای او دخلکو عادلانه غوښتنو او د هغوی یو موټي پاڅون ته د نه ځواب نشي ویلای او هغه به تل په پام کې نیسي او غاړه به ورته ږدي.

د وزارتونو په تشکیل کی دبیا نوی نظر ارتیا

گل آغا احمدی وردک

حکومت یا اداره دیوه هیواد دهرارخیز جوړښت موجودیت اوسمون دښستیزو ارګانو له جملی څخه ګڼل کیږی چی پرته له هغه څخه دهیواد موجودیت له پوښتنی او دساکنو وګړو ژوند یی دګډوډیو سراب ته لویږی اداره یا حکومت هغه سترالهی نعمت دی چی دانسانانو له ډلی څخه وړکسان دخپلو خلکو دچارو واګی په لاس کی اخلی او دژوند ډسمون لپاره نه ستړی کیدونکی هلی ځلی کوی دحکومت یا اداری په وسیله انسانان دخپل ژوند چاری په داسی ډول برابروی چی دهرډول بریالیتوب راز پکی پروت او دزیاتو ناخوالو مخه یی نیولی وی بریالی اداره بیا له هغه اداری او یا حکومت څخه عبارت ده چی دخلکو په خوښه رامنځته شوی وی دهیواد هر اړخیزو ارتیاوو سره سم داسی غوره اداری تشکیلات چارواکی او مناسب لګښتونه ولری چی د اړوند هیواد له اقتصاد تولنیز ژوند او ارتیا وو سره اړخ لګوی په همدی توګه ورسپارل شوی چاری په بریالی او اغیزمنه توګه سرته رسوی دخلکو چوپړ خپله دنده ګڼی د ټولنی درضایت له تول سره برابره دعصر په نوی تکنالوجی سمباله او دهر ډول فساد مقابلی ته چمتو وی.

د هیواد پر اداری جوړښت ډیری ناخوالی ښی او بدی ورځی راغلی دی خو دپخوانی پاچا شاهی اداره او دمرحوم شهید محمد داود خان جمهوری حکومتونه یی وروستی نمونی دی چی دځینو نیمګړتیاوو سره سره یی دهیواد اداری او حکومت دنوو اونسبی بریالیتوب د بیلګو په توګه ګڼلی شو د ۱۳۵۷ هجری لمریز کال دغوایی له کودتا وروسته دهیواد حکومتی اداره د کسان چی په تیریدو سره شړیدو وراضافه شوی دهغوی هم ډیره برخه د روابطو په اساس ټاکل شوی او ددی مناسبو اداری کارونو دسرته رسولو له ورتیا څخه محروم دی چی دزمانی له غوښتنو سره اړخ لګوی ځکه چی زیاتره یی هماغه کسان دی چی پخوا یی دجګړی او مختلفو وجوهاتو له املې دندی خوشی کړی وی په همدی توګه په ځینو پوستونو کی دګوتو په شمیر داسی کسان هم ټاکل کیږی چی څه ناڅه دنوی تکنالوجی او نوو اداری پرنسیبونو سره بلدتیا او له هیواد سره دزړه سوی احساس ولری خو هغوی په هیڅ توګه نه شی کولای په داسی یوه اداره کی دپام وړ اساسی بدلونونه نوښت او بیا جوړونه رامنځته کړی چی مامورین یی ټول له پورته یاد شوو اصنافو څخه تشکیل شوی وی له بلی خوا یوه ستونزه چی د اوسنی دولت اداره یی دوړ معیارونو او افرادو له نشتوالی سره مخ کړی ده هغه دهیواد په موجوده حالت کی دغیر دولتی خپلواکو موسسو یا انجوګانو موجودیت دی ځکه هغه څوک چی څه ناڅه کاری ورتیا ولری نو دغوره امکاناتو او تنخو اوو دلاسته راوړلو لپاره له انجوګانو سره کارکولو ته زړه ښه کوی نو په دی توګه ویلای شو چی د هیواد په اوسنی اداره کی په ټولیزه توګه دنوو اداری نوښتونو او بدلونونو درجه له نشت سره حساب ده.

اوسنی اداره په حقیقت کی د دی تیرو یاد شوو ادارو دافرادو نچوړ بلل کیدای شی چی په لنډه توګه اشاره ورته وشوه زیاتره مامورین یا ګړی یی ددی تیرو ټولو ادارو اوحکومتونو پاتی شونی دی او پرته له عسکری تشکیلاتو هغه ټول ملکی تشکیلات دکموتوپیرونو سره یو ځای په اوسنی اداره کی ځای په ځای پاتی دی چی ځینی یوازی تش په نوم او ځینی بیانیم اونیم ګور فعال دی چی په پخوانیو یادو شوو ادارو کی موجود وو.

د هیواد اداره چی په داسی یوه ناروغ حالت کی شپی او ورځی سبا کوی نو دستونزی حل څه کیدای شی؟

د ستونزی دحل لپاره دی دلومړی ګام په توګه دوزارتونو په شمیر کی دپام وړ کموالی راوستل شی په دی ډول چی اوسنی وزارتونه اومستقل ریاستونه له هغه اړتیاوو څخه بیخی زیات دی چی هیواد یی ورته اړه لری بلکی دزیاتره وزارتونو دندی او وظیفی سره ورته دی که دهیواد دحکومت اقتصاد او اداری اړتیاوو ته په ژوره توګه وکتل شی نوښایی چی ځینی هغه وزارتونه له یو بل سره یو ځای شی چی ورته دندی لری او تقریباً دورته کارونو دسرته رسولو لپاره په کار ګمارل شوی دی دساری په توګه دپوهنی او دلوړو زده کړو لپاره د هیواد په څیر هیواد کی یوازی یوه وزارت ته اړتیا شته ده چی دواړه د زده کوونکو او محصلینو اړوندی چاری یا په هیواد کی د زده کړی بهیر مختې بیایی د اطلاعاتو کلتور ښځو چارو او ځوانانو چارو دمختې بیولو لپار یوازی یوه وزارت ته اړتیا شته ده چی دیاد شوو وزارتونو اړوندی چاری په مخ بوزی وزیر یی ریښتنی افغان او زړه سواند شخصیت وی دکار ټولنیزو چارو شهداوو معلولینو چارو او بیرته راستنیدونکو لپاره یوازی یو وزارت په نظر کی ونیول شی دمالیی اقتصاد او سوداګری وزارتونه یوازی یوه وزارت ته اړتیا لری چی ددغه دواړو وزارتونو اړوندی چاری په مخ بوزی دسرحدونو اوقبایلو چارو وزارت دی دکورنیو چارو له وزارت سره یو ځای شی د اوبو انرژی او کانونو لپاره یوازی یوه وزارت اته اړتیا شته دښار جوړولو مسکن او عمومی ګټو وزارتونه کیدای شی یوازی په یو وزارت بدل شی او دترانسپورت لپاره یو ریاست هم کافی ګڼل کیږی ځکه که اوس مهال د هیواد دالوتکو شمیر او ترانسپورتی چارو ته وکتل شی نو بیا خویوازی یو ریاست ورته کافی ګڼل کیږی په همدی توګه دحج او اوقافو وزارت لپاره یو ریاست کافی دی ځکه چی نوموړی وزارت په ټول کال کی مکی مکرمی ته یوازی د ۲۵۰۰۰ څخه تر ۳۰۰۰۰ افغان حاجیانو دسفر چارو ته سمون ورکوی او دغه کاریو ریاست هم په اسانی سره تر سره کولای شی.

په همدی توګه دیوی ژوری څیړنی په ترڅ کی په کار ده چی دوزارتونو ددندو او تشکیلاتو په اړه عمیق فکر وشی چی له دفاع کورنیو چارو بهرنیو چارو، کرنی، عدلیی، ښوونی، مخابراتو او داسی نورو مهمو وزارتونو څخه پرته حکومت ته په کار ده چی دورته وزارتونو دندی په ژوره توګه وڅیړی او یو داسی مختصر حکومت رامنځته کړی چی دافغانستان له حالاتو سره اړخ لګولی شی

پهنوی تکنالوجی سمبالوی غوره مختصر کاری خواک ولری او دخپل کاری خواک د ژوند اړتیاوی یی په ښه توګه په نظر کی نیولی وی په همدی توګه د دندو لپاره اشخاصو دګمارلو پروسه په شفافیت پوهنیزو بنسټونو لیاقت او یوازی دضرورت له مخی پکی ترسره کیږی.

لت وکوب ...

تا مقصر اصلی آن معلوم وبه جزایش برسد. این درحالیست که یک خبرنگار این تلویزیون چندی پیش نیز در همین ساحه توسط موظفین ریاست دهم امنیت لت وکوب شده بودند. وی افزود که دولت مکلف است از حقوق ومصئونیت جان خبرنگاران دفاع نماید. در همین حال غوث زلمی مسوول عمومی اتحادیه ملی خبرنگاران افغانستان میگوید که خبرنگاران انعکاس دهنده واقعات وارتباط میان مردم ومقامات می باشد. پس باید مقامات به کارمندان شان بفهمانند که باخبرنگاران چگونه برخورد نماید.

۹ تن طالب باز داشت ...

که در نتیجه آن یک فرد غیر نظامی کشته شد و ۴ پولیس زخمی شدند.

قوماندان امنیه ولایت پکتیا گفت که بمنظور شناسایی افراد حمله کننده به این پاسگاه عملیات تصفیه ئی از سوی نیروهای مشترک پولیس، اردوی ملی وائیتلاف آغاز شده است که در نتیجه تا کنون ۹ تن مظنونین به دست داشتن درین حمله همراه با سلاح ومقدار مهمات باز داشت شده اند.

وی افزود که از نزد باز داشت شدگان چند پایه دستگاه مخابره نیز بدست آمده است.

پنج طالب کشته ...

آژانس خبری فرانس پریس نگاشته است که این حمله در ولایت هلمند ودر نزدیکی مرز پاکستان صورت گرفته است

فرمانده نیروهای ائیتلاف میگوید که در این محل که یک اردوگاه آموزشی طالبان بشمار میرود تعداد زیاد از افراد این گروه گردهم آمده بودند

بر اساس اطلاعات فرمانده نیروهای ائیتلاف مخالفان کشته شده در گذشته نیز به اتهام حمله بالای نیروهای ائیتلاف چپاول وقتل غیر نظامیان تحت تعقیب قرار داشتند.

این فرمانده میگوید که این موفقیت بزرگ حاصل طرح های قبلی اطلاعاتی آنان در منطقه بوده است.

سخنگوی والی هلمند میگوید در بمباران هوائی که جمعه شب در منطقه ساگه قلعه ولسوالی سنگین ولایت هلمند رخ داد پنج طالب کشته شدند که تاکنون هویت آنان معلوم نشده است.

رئیس ویک عضو...

شماری از نمایندگان رایدهی برای آقای شینواری را در مغایرت با قانون اساسی میگفتند اما شماری دیگر تائید میکردند که باید در مورد شینواری وروستایی به رایدهی بپردازند. تاکه این موضوع به اکثریت آرا فیصله شد. بررسی صلاحیت رئیس اعضای شورای عالی قضا با یکی از موضوعات بحیث برانگیز تبدیل شده بود. سن فضل الهادی شینواری وکار نامه های وی در زمان تصدی ریاست محکمه عالی از مهمترین سوالات بود که نمایندگان آن تائید میکردند علاوه بر اینکه شینواری اسناد تحصیلی معتبر ندارد وی در حال حاضر بیش از ۸۰ سال عمر دارد. نمایندگان ولسی جرگه از دو هفته به این سو به گفتگو در مورد اعضای معرفی شده محکمه عالی پرداختند کماکثر این گفتگو ها با مخالفت های شدید همراه بود وحتی در بعضی موقع جلس به تشنج کشیده میشد. نمایندگان به استناد از قانون اساسی جلسات ولسی جرگه را تاکنون مغایر با قانون اساسی میداند، اما شماری به صحت مجلس تاکید میکند.

په بلخ کی ...

کوم چې راجستر شوی دی اوپاتې نور ۴۰۰۰ کډوال له ډیرو ښختو ستونزو سره لاس او ګریوان دی.

دوی له دولت نه وغوښتل چې دستونزو په حل کې ورسره بیړنی مرستې وکړي.

په ننګرهار...

مظاهره کوونکو چې شمیره یې سل ګونو ته رسیده دهغو محصلینو د خوشې کیدو غوښتنه کوله چې څه موده وړاندې دحکومت لخوا نیول شوی دی. محصلینو ددوی دنیول شوو ملګرو مشیره دې ته یادوله چې په وینا یې څه موده وړاندې په ننګرهار پوهنتون کې دمظاهرې په تور نیول شوی دی. دوی وایی چې خپل غږ تر مرکزی دولت اوپارلمان رسولی چې ورسره یې دخوشې کیدو ژمنې ددولت لخوا کیږي. خود دوی په خبره عمل پرې نکیږي.

مظاهره کوونکو محصلینو ګوابنه کوله چې یې غوښتنه ونه منل شي مظاهرو ته به دوام ورکړي دلوړې اعتصاب به پیل کړی او په راتلونکو آزموینو کې به برخه وانخلی. خو دننګرهار پوهنتون رئیس امان الله حمید زی وایی چې نیول شوی محصلین دوه تنه دی چې دهغه په وینا دمظاهرې په تور نه، بلکې په یوه بله پیښه کې دلاس لرلو په تورنیول شوی دی.

ERADA Daily

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar Mobil Phone: 070222726
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

زیر نظر هیات تحریر انتشار میباید
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار

اراده
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکز نشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد مسعود "ستانکزی"
چاپ: مطبعه مرکز نشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی